دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

# شهادت

اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

PROPERTY OF ACKU

### درس قرآن

دا د آخرت کور مونږ یوازې هغو خلکو ته ورکوو چې په ځمکه کې د لویې او فساد هڅې نه کوي. او آخرنۍ برۍ د پرهیزګارانو په برخه دی. څوک چې له نیکیو سره راشي بدل به یې لا ښه ورکړای شي او څوک چې له بدۍ سره راشي نو بدکارو ته یوازې دهغوی د کړنو بدله ورکول کېږي. (سورة القصص: ۸۳ - ۸۴ آیتونه)

### درس حدیث

از انس (رض) روایت است که نبي اکرم (صلی الله علیه وسلم) فرمود: «کسی که این سه خصلت را داشته باشد، شیرینی ایمان را می چشد. یکی اینکه: الله و رسولش را از همه بیشتر دوست داشته باشد. دوم اینکه: محبتش با هر کس، بخاطر خوشنودی الله باشد. سوم اینکه: برګشتن به سوی کفر، برایش مانند رفتن در آتش، ناګوار باشد». (صحیح بخاری)

شهادت خلورم کال، ۳۵ مه ګڼه، پرله پسې ۱۸۲ مه ګڼه چهارشنبه ۱۳۹۱ هـ ل د لیندی ۲۹ مه د۱۴۳۴ هـ ق د صفر المظفر ۵ مه د۲۰۱۲ م د دسمبر ۱۹ مه

## م.م پر افغان طالبانو د بندیزونو تګ لاره نوې کړه

**د ملګروملتونو د بندیزونو په لېست کې دا مهال یوسل او دوه دېرش کسان او څلور سازمانونه شامل دي**

**د طالب مشرانو لپاره د سفر آسانتیا به له بهرنیو پوځیانو سره چې په ۲۰۱۴ کال کې له افغانستانه ووځي د پخلاینې امکان برابر کړي**

کابل، رسنۍ:
د ملګروملتونو امنیت شورا پر افغان طالبانو د بندیزونو تګ لاره پرون نوې کړه او داسې بدلونونه یې په کې راوستل، چې له مخې یې په تور لېست کې شامل طالب مشران کولای شي د سولې په خبرو اترو کې د ګډون لپاره په اسانه بهر ته سفر وکړي.
د ملګروملتونو د بندیزونو په لېست کې دا مهال یوسل او دوه دېرش کسان او څلور سازمانونه شامل دي.
په امنیت شورا کې ډیپلوماتانو هیله څرګنده کړې چې د دې کسانو لپاره د سفر آسانتیا به، له بهرنیو پوځیانو سره، چې په ۲۰۱۴ کال کې له افغانستانه وځي، د وسله والو طالبانو د سولې او پخلاینې امکان برابر کړي.

پاڼې ۴ مخ

## اعلام آمادگی طالبان برای اشتراک در گفتگو های سازمان ملل متحد

**تا کنون ګروه طالبان در جریان این نشست قرار نګرفته است و هیچ پیامی از سوی دولت افغانستان و سازمان ملل دریافت نکرده**

کابل، رسانه ها:
ګروه طالبان اعلام کرد، موضوع نشست صلح سازمان ملل متحد را که از جانب دفتر سیاسی سازمان ملل در افغانستان (یوناما ) مطرح شده است، بررسی می کند و به طور مشروط در این نشست شرکت خواهد کرد.
به ګزارش ګران افغانستان ذبیح‌الله مجاهد، سخنګوی ګروه طالبان در این زمینه می ګوید: طالبان موضوع نشست صلح سازمان ملل را بررسی می کند و اګر در مورد تحقیقات و ګفت‌وګوها بین کشورها باشد، ما (طالبان) در این نشست شرکت می کنیم.
مسئولان دفتر سیاسی سازمان ملل در افغانستان (یوناما) می ګویند در نظر دارند تا چند هفته دیګر، نشستی را در مورد صلح با حضور تمام ګروه‌ها و احزاب سیاسی در کابل برګزار کنند.

بقیه در صفحه ۴

## روسیه مخالف حضور دراز مدت نیروهای امریکایی درافغانستان می باشد

**ماموریت و وظایف عملیات آینده احتمالی نیروهای ناتو در افغانستان کاملاً مشخص باشد و این ماموریت قطعاً باید با اجازهٔ شورای امنیت سازمان ملل متحد صورت بګیرد**

مسکو، رسانه ها:
بر اساس ګزارش آژانس خبری نووستی، سرمنشی عمومی شورای امنیت روسیه تاکید کرد که کشورش با حضور درازمدت نظامیان خارجی در افغانستان مخالف است و به همین دلیل باید در مباحثات مربوط به آینده این کشور بعد از سال ۲۰۱۴ حضور داشته باشد.
"نیکولای پاتروشیف" دبیر شورای امنیت روسیه اعلام کرد که حفظ درازمدت نیروهای نظامی خارجی در افغانستان برای روسیه قابل قبول نیست و به همین دلیل مهم است که

بقیه در صفحه ۴

## کمک ۶۸۸ میلیون دالری وزارت دفاع امریکا به پاکستان

واشنګتن، رسانه ها:
وزارت دفاع امریکا در ماه جاری میلادی کانګریس این کشور را به طور کامل از این موضوع آګاه کرد که قصد دارد مبلغ ۶۸۸ میلیون دالر را به پاکستان برای تامین هزینه استقرار ۱۴۰ هزار نیروی اردو در منطقه سرحدی نزدیک به افغانستان بپردازد؛ امری که تلاشی برای عادی سازی حمایت از اردوی پاکستان پس از دو سال بحران است.
به ګزارش روزنامه نیویارک تایمز، حامی اصلی پرداخت این مبلغ به دولت پاکستان نامزد مقام وزارت امور خارجه امریکا سناتور جمهوری خواه ایالت ماساچوست، جان کیری است.
سناتور کیری از جانب بارک اوباما، رئیس جمهور امریکا به عنوان نامزد این مقام در نظر ګرفته شده تا جایګزین میرمن هیلری، وزیر امور خارجه کنونی امریکا شود.
جان کیری هم اکنون رئیس کمیته امور خارجه سنای امریکاست و سفرهای زیادی

بقیه در صفحه ۴

## د افغانستان په اړه د نړیوال بانک خوشبیني او اندېښنې

کابل، رسنۍ:
نړیوال بانک وايي، افغانستان به له ۲۰۱۴ کال وروسته چې کله له دې هېواده د ناټو ځواکونه وځي، د امنیتي ستونزو له کبله د هغو پرمختګونو په ساتلو کې له ستونزو سره مخ وي؛ چې په اقتصادي او نورو برخو کې یې په تېرو لسو کلونو کې کړي دي.
د فرانسپرس خبري اژانس د راپورله مخې نړیوال بانک په خپل څېړنیز راپور کې ویلي؛ چې د دې بانک پروګرامونو په افغانستان کې په مختلفو لکه د عامې روغتیا، مخابراتو او د ټولنې د پرمختګ په برخو کې د پام وړ نتیجه ورکړې ده.
خو دغه رازخبرداری ورکوي، چې له ۲۰۱۴ کال وروسته چې په افغانستان کې د بهرنیو

پاڼې ۴ مخ

## مړه یې مه بولئ ژوندي دي

د افغان مقدس جهاد د سپېڅلو شهیدانو یاد

دریم مخ

## امریکا په افغانستان کې روانه جګړه څنګه ختمه بیایي؟

لیکوال: ډېو لینډروف - ژباړه: عبدالله "کامه وال"

**دا تصور چې وایي تر ۲۰۱۴ وروسته به دغه لس زره پوځیان افغان اردو ته "روزنه" ورکوي، یوه چټی او نامعقوله خبره ده**

**لس زره امریکایي پوځیان به عملاً د جنګ په حال کې وي، خو دې جګړې ته به امریکا د جنګ نوم نه ورکوي او نه به یې د لویو پانګوالو خېروني جنګ بولي بلکې د افغان پوځ روزونکي او ملاتړکوونکي به یې بولي**

دا د حیرانۍ خبره ده چې سیاست وال د خپلو ژمنو نه په څنګ تیریږي. او ولسمشر اوباما مونږ ته دا هنر ډیر ښه انځور کړی دی.
اوباما او د هغه مرستیال جوبایډن د انتخاباتي مبارزې او وروستنی ټلویزیوني مناقشې پر مهال په کلکه ټینګار کاوه چې امریکایي پوځونه به د افغانستان نه راووزي او دغه جنګ به د ۲۰۱۴ کال تر پایه پورې ختموي، یعنی هغه هدف چې ډیری امریکایان یې غوښتونکی دي. بایډن د خپل جمهوریت غوښتونکې سیال (پاول رې ین) سره د شدیدې مناقشې پر مهال وویل چې: ...

پاڼې دویم مخ

## تلاش صدر اعظم انګلستان برای پایان دادن ماموریت نظامی این کشور در افغانستان

**قوماندانان اردوی انګلستان همچنان بر این عقیده‌اند که اقدامات و دستاوردهای ناتو در مقابل طالبان خوب نبوده و تردیدهایی نیز در خصوص قابلیت‌ها و ظرفیت های نیروهای امنیت ملی افغانستان وجود دارد**

لندن، رسانه ها:
ګزارش ها حاکی از آن است که صدر اعظم انګلستان قصد دارد با کاهش ګسترده تعداد نیروهای نظامی این کشور در پایان تابستان سال ۲۰۱۳ میلادی، به ماموریت آنها در افغانستان خاتمه دهد.
بر اساس ګزارش های موجود دیوید کامرون، صدر اعظم انګلستان قصد دارد حد اقل ۴۵۰۰ نیروی انګلیسی مستقر در افغانستان را از این کشور خارج کند.
روزنامه دیلی تلګراف نیز نوشت، همزمان با آغاز ګفتګوها میان دولت لندن و متحدین ناتو درباره تعداد و نوع سربازانی که قرار است...

بقیه در صفحه ۴

## د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

# اقتدار ته د رسېدو لپاره دې قانوني لاره غوره کړی شي، نه شخصي مصلحتونه

په دې وروستیو کې د طالب مشرانو او شمالي ټلوالی د مشرانو ترمنځ د خبرو اترو او لیدنو کتنو آوازې ګرمې شوې دي او دواړو لوریو د خپلو لیدنو کتنو او خبرو اترو د ترسره کېدو تائید هم کړی دی، دغه لیدنې کتنې که یو لورې د سولې د ټینګښت لپاره د ولس هیلې زیاتې کړي دي خو بل لورې دا اندېښنې یې هم پیدا کړي دي چې هسې نه دغه لیدنې کتنې د قدرت او اقتدار د ویش لپاره ترسره شوې وې چې په افغانستان کې د څو محدودو او ځانګړو اشخاصو واکمني ټینګ او بیچاره ولس ددوی د ظلم او انحصار غوښتنې په ژرنده کې دل شي.

په هېواد کې د څو محدودو ډلو ټپلو واکمني د افغانستان مشکل نه شي حلولې که حلولای شوای نو افغانستان به یې له دغه هلاکوونکی او بوګنوونکی حالت سره نه و مخامخ کړې، نو ځکه د عقل او منطق غوښتنه داده چې پر داسې اساسي او اصولي کړښو کار وشي چې د افغانستان ولس د څو محدودو اشخاصو له ملوک الطوایفي او انحصار غوښتنې څخه خلاص او ولس د خپلو مستقیمو آراو په نتیجه کې د خپلې خوښې داسې نمایندګان وټاکي چې سباته دهغوی احتساب وکړی شي.

له ولس، هېواد او خپل دین سره د اخلاص او مینې غوښتنه داده چې خپل شخصي ګټې که هغه په هره بڼه وي د هېواد له مجموعې ګټو نه قربان کړی شي او له ټولو هغو اقداماتو څخه ډډه وکړی شي چې ګران هېواد ته تاوان رسوي.

تېر تاریخ پدې واقعیت ګواهي ورکوي چې یواځې هغه ولسونه او قومونه د پرمختللې او هوسا ژوند خاوندان شوي دي چې هغوی خپل مادي او معنوي، استعدادونه د خپلې خاورې او ولس لپاره یې وقف، او په سلو کې سل کوښښ یې کړی چې هېواد یې د ژوند په هر ډګر کې ترقي وکړي.

زموږ هېوادوال هم د نورو خوشالو هېوادو په څېر د امن، ترقي او هوسا ژوند له نعمت نه برخمن کېدلې شي خو هله چې زموږ مشران هم خپل سر، مال او ټول قابلیتونه د هېواد د هوسایښې لپاره وقف کړي.

که څه هم زموږ د زیاترو مشرانو له خپل هېواد او ولس سره د مینې او خدمت دعوې له بل هر چا زیاتې دي خو په حقیقت کې د خپلې دعوې د اثبات لپاره یو ګام یې هم چېرته نه دی اوچت کړې، د اخلاص او مینې ثمره ډېره ښکاره خوړه او محسوسه وي خو له بده مرغه تراوسه زموږ د مشرانو د اخلاص او مینې ثمره په سترګو نه لیدل کېږي، که زموږ مشران واقعاً د افغانستان د ستونزې تلپاتې حل او هغه د ترقي او خوشحالي په لور بیول غواړي نو ددې پر ځای چې څو مشران پخپلو کې سره د خپلو خپلو ګټو د تأمین لپاره په جرګه شي ښه به دا وي چې د افغانستان د دائمي ګټو او د ولس د آرام او هوسا ژوند د تأمین لپاره ټول مشران په یو چوکاټ کې راغونډ، او له هر څه نه وړاندې اقتدار ته د رسیدو لپاره په ګډه او په یوه خوله دا قانوني او اساسي اصل ومني چې هر څوک اقتدار ته رسېدل غواړي هغه باید د خپل ولس رایو ته رجوع وکړي او دهغوی انتخاب دې په سر سترګو ومني. موږ باید دې حقیقت ته غاړه کېږدو چې تر څو پورې د ملت رای او انتخاب ته په درنښت ونه کتل شي او د حکومت د منتخب کولو واک او اختیار هغوی ته ورنکړل شي په افغانستان کې نه تلپاتې امن راتلی شي او نه هم استحکام، بلکې د پخوا په څېر به د هېواد په ګوټ ګوټ کې د جګړې لمبې پورته کېږي او دا جنګ ځپلې ولس به د څو خودخواو عناصرو د اقتدار د کشمکش په میچنه کې دل کېږي، الله دې نه کړي.

# امریکا په افغانستان کې روانه جګړه څنګه مخته بیایي؟

(د لومړی مخ پاتې برخه)

...امریکا به د افغانستان نه د ۲۰۱۴کال په پای کی "مطلقاً راووزی" خوولسمشراوباما له دې یوه اوونی وروسته وویل چی « د انتقال دغه بهیر به په ۲۰۱۴ کال کی بشپړیږی او افغانان به پخپله د خپل امنیت ساتلو مسؤل وی.»

دغو یادونو ما ته د ولسمشر کلنټن، یعنی یو حقوقی وکیل، هغه خبره را په یاد کړه چی قاضی ورڅخه وپوښتل چی د سپینی مانی د یوې کارمندې سره چی دې جنسي عمل کړی دی، د هغه توضیح راکړه، خو ده ورته وویل چی ځواب یې د "دی" کلمې د معنی پوری اړه لری.

همدا تیره اوونی راپور ورکړشو چی اوباما او د پنتاګون جنرالان پر داسی پلان کار کوی چی له مخی یې لږ تر لږه لس زره امریکایی پوځیان د ۲۰۱۴ کال وروسته هم تر نامعلومه وخته په افغانستان کی پاتی کیږی.

آیا پوهیږئ چی دا څومره تعداد پوځیان دي؟ لس زره پوځیان د هالینډ یا ډنمارک هر یوه نیمایی پوځیان تشکیلوی، یعنی هغه دوه هیوادونه چی همدا اوس د ناټو په چوکاټ کی په افغانستان کی د امریکا په دوولس کلن جنګ کی ولاړ دي.

دا تصور چی وایی تر ۲۰۱۴ وروسته به دغه لس زره پوځیان افغان اردو ته "روزنه" ورکوی، یوه چټی او نامعقوله خبره ده. ځکه: په جنوبی کرولینا کی د "پیریس آیلینډ" اوځار مرکز چی امریکایی مرین پوځیان روزي، او د امریکایې پوځ تر ټولو ښه روزنتون دی، په ۶۰۰ نفرو سره د کاله اوولس زره (۱۷۰۰۰) نوي مرین پوځیان روزی. د دې معنی دا ده چی یو نفر روزونکیٌ ۱۷۰ پوځیان اردو ته تقدیموی.

په دې حساب لس زره امریکایی روزونکي باید په افغانستان کی هر کال افغان پوځ ته ۱،۷ ملیونه نوي پوځیان تقدیم کړی! آن که د دې لسو زرو پوځیانو صرف درېیمه برخه "روزونکي" یې هم افغان پوځیان وروزي، نو په هغه صورت کی به افغان اردو هر کال پنځه لکه (۵۰۰۰۰۰) نوي پوځیان ولری! مګر افغان اردو همدا نن، چی د امریکا د ادعا له مخی ښه ترا روزل شوي او خپل هیواد ساتلای شي، ټول ټال دوو لکو (۲۰۰۰۰۰) ته رسیږی.

نو باید دې موضوع ته جدی پاملرنه وکړو. یعنی دغه لس زره پوځیان چی اوباما او پنتاګون وایی چی په افغانستان کی به د ۲۰۱۲ په ډسمبر کی [ښایی دا ۲۰۱۲ نه بلکی ۲۰۱۴ وی ـ ژباړن] د روزونکو دنده پر مخ بیایی، دغسی نه ده، ځکه: یو جنګ څنګه په داسی حال کی پای ته رسېدای شي چی یواځې یو اړخ یې د ختمېدو خبره کوی؟ آیا تر هغه وخته چی دغه لورئ ورڅخه وتلی نه وی، اړونده جنګ ختمېدای شي؟ دا خو یقیني خبره ده چی په یو بهرني جنګ کی اشغالګر لورئ اړونده جنګ ختم وبولی، خو که یې مقابل لورئ و نه بولی او اشغالګر هم په همدې جنګ کی بوخت پاته وی (چې په افغانستان کی ټول هیواد پکښی راګیر دی)، معنی دا چی دا جنګ قطعاً پای ته نه دی رسېدلی. مخالف لورئ به هم خپل ګوزارونه جاری ساتی تر هغې چی نیونکی وشړی.

بله چې دغه لس زره امریکایی پوځیان به عملاً د جنګ په حال کی وی، که رسماً ځانو ته هر نوم هم ورکړی. دا ځکه چی طالبان به په افغانستان کی هغوی هیڅکله پرې نږدی چی داسې پوځ ورته وروزي چی د دوی سره وجنګیږی، نو ځکه به د همدې "روزونکو" سره جنګیږی. نو سوال دادې چې اوباما، جوبایډن او جنرالان څنګه دا ژمنه کولای شي چی دغه جنګ به په ۲۰۱۴ کی پای ته رسیږی؟

ماته یې ځواب دا ښکاري چی دوی هغه څه چی تر ۲۰۱۴ وروسته پیښیږی، "جنګ" نه بولی. هغوی به د "جنګ" د کلمې تعریف بدل کړی.

وړاندوینه داده چې هغه لس زره بد بخته پوځیان چی هلته به تر ۲۰۱۴ کال وروسته هم د "روزونکو" په نوم پاتې وی، د طالب جنګیالیو د حملو، ځان وژونکو برید ګرو، او ماین چاودنو سره مخامخ وی. د هغوی پر اډو او بېسونو به د هاوانونو او راکټونو حملې کیږی. کله چی هغوی له بیسه بیرون ځی، نو ګاډي به یې په راکټونو ویشتل کیږی. اوتردې لا خطرناکه داچې، هغوی به پخپله د افغان پوځیانو د حملو سره هم مخامخ وی چی ظاهراً به همدوی روزلي وی، لکه طالبان چی مخکی لا پوهېدلی دي چی په اردو کی نفوذ امریکایی ځواکونو ته د نږدې کېدو تر ټولو ښه لارده چې پرهغوی ګوزار وکړی.

نو امریکایی ځواکونه به هم د ناچاری له مخی جنګیږی او خپلو بریدونو ته به پایښت ورکوی. امریکایی هوایی حملې به هم ضرور جریان لری او هم به د بې پیلوټه طیارو حملې جاری وی چی په دې ډول به ګڼ شمیر نوي دښمنان هم رامنځته کیږی او امریکایانو ته به د سزا ورکولو او له وطنه شړلو لوړه کوی.

چې دا هر څه به بېله شکه د امریکا لخوا "جنګ" نه بلل کیږی او نه به یې هم د لویو پانګوالو خپرونی جنګ بولی. وګورئ په دې هکله موږ تردې وړاندې بیلګې هم لرو: امریکا په کولمبیا کی د کلونو کلونو راهیسی د "فارک"، مارکسیستی شورشیانو سره د دې هیواد په ځنګلونو کی جنګیږی. همدا جنګ هیڅکله هم په امریکایی خپرونو یا د پنتاګون په راپورونو کی جنګ نه دی بلل شوی؛ بلکی موږ ته ویل کیږی چی امریکایی پوځیان هلته د دې لپاره لیږل شوي دي چی د کولمبیا اردو ته "روزنه" او "سلا مشوره" ورکړی چی د "مخدره موادو د کاروباریانو" سره جنګیږی.

کټ مټ قصه د مرکزي امریکا په یو کوچني هیواد السلوادور کی هم روانه وه چی یوه لسیزه یې انقلاب او کورنی جګړه وزغمله. په دې هیواد کی امریکا د یو څو فاسدو او ظالمو شتمنو د حکومت ننګه کوله او د هغه وحشی پوځ ملاتړ یې کاوه چی اطرافو ته به ورتلل او د شورشیانو ملاتړي به یې په وحشیانه ډول وژل. دلته هم امریکایی پوځیان "روزونکي" او "مشاورین" بلل کېدل حال دا چی د هغوی دندې له دې نه ډیرې پراخې وې یعنی وینې به یې تویولې. لکه څنګه چی یو خل یې د دې هیواد د مرکز په یو هوټل کی د مخالفینو پر ۱۲ فعالینو باندی چی هوټل یې د لږې مودې لپاره یرغمل کړی و، خونړی حمله وکړه.

په یو هیواد کی د خپلو پوځیانو اچول او هغوی ته د مشاورینو یا روزونکو نوم ورکول د امریکا یو پخوانی تبلیغ دی. خو د پخوانیو دغسی استعماري کړنو سره د دې نوي پوځ اچونې فرق دا دی چی دا ځل په دغسی اعمالو کی د لاس لرلو لپاره د امریکایی پوځیانو شمیر خورا ډیر دی. حتی دا ادعا به د بیل کلنټن د افسانوي ګنګس یا مبهم کولو په نسبت هم خلک ځکه معتقد نکړی چی آیا لس زره تر غاښونو وسلوال امریکایی پوځیان هم "روزونکي" کېدای شی؟! (په هر صورت، امریکا کټ مټ لس زره "روزونکي" او "مشاورین" په ۱۹۶۲ کی په یو بل جګړه ځپلي هیواد کی هم لرل. هو، دا هیواد ویتنام و، او دغه روزونکي هلته سم په جګړه کې جنګېدل څو چی باالاخره یې تعداد پنځو لکو (۵۰۰۰۰۰) ته ورسېد.) نو امریکا هر چیرې وغواړي خپل فوځونه ولیږي یوه نوی ډراماتیک نوم ورکوي او خپل شوم اهداف ترسره کوي.

# د بگرام په وحشتناک زندان کې د ځورونکو شپو یاد

حبیب الرحمن ابراهیمي : Ibrahimi.jornalist@gmail.com

(لومړی برخه)

دجمعې شپه وه دکابل ښار په لویدیځ دپنځمې حوزې اړوند دکمپنی اوآبرسانی ترمنځ سیمه کې دشمس المدارس دجومات اومدرسې څنګ ته په کور کې مې له خپلو ماشومانو سره په خواږه خوب ویده وم په داسې حال کې چې وړور مې بل چیرته میلمه وو او په کور کې نه وو.

دشپې شاوخوا ۱۲:۳۰ بجې به وې چې نا ببره یو درز شو چې له خوبه راببدار شوم چې ددروازو اودکړکیو دشیشو شرنګ او شرونګ وو اوشیښې ماتې وې اوتوليې راتویدلې چې سترګې مې لوخې کړې کوټه او سراې کې داسې سپینه رڼا وه اوپه حویلی کې مې سترګې په ډیرو امریکایانو ولګیدلې چې سرې ډیرې سره سره لوی لوی بریتان، شنې سترګې اوسره مخونه لرې او دټوپکو شپیلی یې زما خواته نیولې اوزه داسې فکر کوم چې خوب وینم نو په دې حالت کې ګورم چې امریکایی پوځیان چې ټوپک په ماشه یې ګوته نیولې کوټې ته دننه شول او زه هیڅ حرکت نه شم کولای چې ګورم ناببره راباندې غږ شواوناڅاپه (وټ از یو ور نیم) ما ورته سمدستی وویل ابراهیمی بیا یی راته وویل !پرسټ نیم پرسټ نیم؟ ما ورته وویل چې حبیب الرحمن ابراهیمی مخې ته مې امریکایان راډیریدل هیڅ پوه نه یم چې شاه طرف ته مې هم امریکایان ولاړ دی اوله شانه یې په لغته ووهلم او دوه متره مخې ته یې وغورځولم او سخت وهل یې راباندې پیل کړل په دې وخت کې له امریکایانو سره یوتن چې شخصی جامې یې پر تن وې امریکایی ډیره لرونکی پوځی په بغل کې په لاس څوځ کړ او زه یې ورته په ګوته کړم چې دغه کس دی نو ځان یې دهغه په شاه کې پټ کړ ګومان کړم چې هغه به یې جاسوس ؤ ، نوامریکایی راته پوښتنې پیل کړې اومخې ته مې یې یوه پښه قات کړه اوبله یې زنګون کړه او قلم یې راواخیست وړوکی کتابچه ورسره وه راته ویل یې چې ستا نوم دپلارنوم دکوم ځای یې څه کوې په دې وخت کې یې دچپ لور همداسې ډیره لرونکی او بریت لرونکی امریکایی زما پر سر وار وکړ اوزه ګنګس شوم او بیا ترجمان راباندی غږ وکړ او راته یې بدی سپکې خبری وکړی چې نه یې شم ویلای ،راته وویل چې صبح کجا بودی ما ورته وویل چې میدان ښار رفته بودم ګفت چې میکردی ماورته وویل چې هلته مې کار درلود بس نوردخبرو کولو اجازه رانه کړه او زما په وهلوې پیل وکړ او زما لاسونه په پلاستیکی ولچک وتړل او کڅوړه یې را پرسر کړه او په لغته یې ووهلم او زما په کوچنی لور چې په خوب ویده وه دهغې په خیټه وخوت او هغه په چیغو شوه نو په دې وخت کې ډیر امریکایان راغلل او یو ترجمان چې دجیبونو په لوټلو یې مې پیل وکړاو زما په جیب کې زر ډالر وو چې پنځه سوه مې خپل او پنځه سوه امانت وو چا راکړي وو چې بل چاته یې ورکړم او شپږنیم زره افغانی مې هم په همدې جیب کی او اته زره افغانی مې په دې بل جیب کې وې هغه یې را واخیستی او ډیره لرونکی امریکایی ورته وویل (ګیو هم منی توهیس فامیلی) دوه درې ځلی یې ورته وویل خو ترجمان پیسې له جیبه راویستی اوپه هغه توره خلته کې چې زما په غاړه کې یې اچولې وه په هغې کې پیسې واچولې او ما ډیر ورته وویل چې پیسې مې ورکړه کور کې ترجمان بیا سپکې خبرې راته وکړې چې ..... یکهزار دالر راچه میکردی.

نور په ځان نه یم پوه چې څرنګه یې موټر ته واچولم خو زما دماشومانوچیغې او ژړاګانې مې په ذهن کې پاتې دي اونورنه یم پوه شوي څه ډول یې له کوره ویستلم خو یوه ساعت شاوخا یې زما په کور کې تالاشي وکړه.

بیا یې چې کله موټر ته واچولم نو هلته مې لاسونه په پلاستیکی ولچکونو سخت وینې کړل اوسخت سوځیدل درد یې کاوه او ما ورته وویل چې لاسونه مې درد کوې دا ولچک لږ شانته سست کړی دوي به لا وهلم او له ۴۰ زیات امریکایاې ګاډي یا موټر یې راوستی وو او له حسابه وتلې امریکایان هم ورسره وو چې نه شم ویلای چې څو به وو خو ویلی شم چې په لسګونوتنه وو شاوخا پنځه دقیقې یې په خامه کوڅو کې مزل وکړ او زه یې یوه بل پوځې ګاډی یا ټانګ ته پورته کړم او بیا یې ۱۵ دقیقې شاوخا مزل وکړ په قیرسرک نه پوهیږم چې کوم ځای ته یې وړې وم هلته یې له پوځې ګاډي ښکته کړم ۲۰ دقیقې به یې هلته په یخ کې دروللی وم چې ګورم دځرخې الوتکو آواز مې ترغوږو شو اودغه دځرخې الوتکوغږ رانیږدې کیږی او چې ګورم ډیرې رانیږدې شوې او یوه یې کښیناستله اوبله یې په هوا ګرځې راګرځي نو په دې وخت کې یې زه لږ وځنډولم او تیاری ته یې ورنیږدې کړم دتیارې باد سخت یخ کړم یخ مې وشوچې ما ورته وویل چې یخ مې وشو او غاښونه مې کړسیدل په دې وخت یو امریکایي پوځي لچک په تشیو کې په لغته ووهلم... *(نور بیا)*

# جوانان و جامعه مدنی

تورن غلام سخی

(به ادامهٔ شماره گذشته)

دو امپراطوری فارس و روم به مسلمانان در داخل شدن شام و مصر و عراق و طرابلس و شمال افریقا در قملرو عدالت اسلام همه و همه به دست جوانان صورت گرفته و همه این امور در ظرف سی و پنج سال که دورهٔ خلافت راشدین بود متحقق گشته است.

در عهد بنی امیه قلمرو حکومت اسلامی گسترش یافت، سند، بخش اعظم بلاد هند، ترکستان شرق چین، غرب اندلس، همه به تصرف مسلمانان درآمدند. خلیفه هارون حینیکه خواست وسعت دنیای اسلام را به جهانیان بنماید چاره جز این نیافت که اشاره به ابریکه از دارالخلافه میگذشت ولی باران نمی بارید، چنین گفت: در هر جائیکه می خواهی ببار چه خراج آن بما خواهد رسید. عقبه بن نافع در کناره اقیانوس اطلس پاهای اسپش را در آب فرو برد روی خود را بطرف بحر کرد و گفت: پروردگار من اگر این بر سر راهم نمی بود هر آئینه دنیا را در راه اعلای کلمهٔ تو فتح می کردم.

گروه که در سپیده دم دعوت اسلامی در دار ارقم گرد آمده اند جوانان بودند از کمال عقل برخوردار بودند، چشمانشان شر را نمی دید، پاهایشان به راه باطل نمی رفت، بدنهای شان از کثرت عبادت لاغر شده بود، بیرق اسلام در بین بشریت که به اهتزاز در آمد و اسلام در جهان مسلط گردید و دعوتش در جهان منتشر گردید. بواسطه همین گروه مؤمن از جوانان که در مدرسه نبوی تربیت شده بودند و از پوهنتون وی که همهٔ علوم را داراست فارغ التحصیل گردیده بودند تحقق یافت.

رسول الله صلی الله علیه وسلم زمانیکه مبعوث گردید چهل ساله بود که مرحلهٔ ایست که جوانی در آن بکمال میرسد. حضرت ابوبکر صدیق (رضی الله عنه) سی و هفت ساله بود و حضرت عمر (رضی الله عنه ) روزیکه ایمان آورد بیست و هفت ساله بود و حضرت عثمان (رضی الله عنه) هم کوچکتر از رسول الله صلی الله علیه وسلم بود و حضرت علی (رضی الله عنه) کوچکتر از همه اینها بود. عبدالله بن مسعود، سعید بن زید و عبدالرحمن بن عوف، بلال بن رباح و مصعب بن عمیر و ده ها بلکه صدها دیگر همگی جوانان بودند. اینها در مکتب رسول تربیت یافتند و تمدن جدید آفریدند. جوانان بر حمل امانت تواناتر و بر ادای مسؤولیت قوی تر و بر پابندی بر مبادی اسلام محکم تر اند. طوریکه نه در برابر باطل سرتسلیم فرود می آوردند، نه ضعیف می شوند و نه به قهقرا می روند و نه بادهای فتنه مسیر و حرکتشان را تعیین میکند نه فریب زرق و برق فساد را می خورند و نه پایشان در منجلاب بی بندو باری و سست عنصری می لغزد. بدینگونه جوانان ثابت قدم، راسخ العقیده، مؤمن، مجاهد و در برداشت رسالت دارای پشت کار باقی میمانند. جوانان در هر زمان و مکان و در همهٔ ادوار تاریخ، ستون امت اسلامی و رمز قیام آن و باعث عزت و شگوفایی تمدن آن و بردارندگان لوای آن و رهبر لشکر آن در پیشقدمی بسوی عظمت و پیروزی بوده اند، یکی از بزرگان فراماسون جنایتکار می گوید:

((بر ما لازم است که زن را بدست بیاوریم، چه همان روزیکه دست ما به سوی او دراز شود با حربهٔ حرام می توانیم پیروز شویم و سپاه طرفداران دین را از هم بپاشیم))

دیگری میگوید: (جام شراب و موسیقی در ویران کردن کاخ هستی امت محمدی کاری میکند که هزاران توپ و تانک نمی تواند آنرا انجام دهد، پس این امت را در محبت مادیات و شهوت غرق نمائید.) (زویمر ) از کشیش های معروف تبشیریان در کنفرانس تبشریان شصت سال قبل در جبل الزیتون در قدس چنین ایراد نمود (شما در دیار مسلمانان نسل نو خاسته را تربیت کردند، که ارتباط با خدا را نمی شناسند و نه هم میخواهند در بارهٔ چنین ارتباطی معلومات کسب کنند و در قدم دوم نسل تازهٔ بپا خاسته، مسلمانان چنانکه استعمار می خواست بار آمد، به انجام کارهای بزرگ توجهی ندارند، آسایش و تنبلی را دوست دارند و در امور دنیوی خویش جز برای اشباع شهوات خود اهتمام بخرج نمیدهند طوریکه اگر علم میآموزند برای شهوات است اگر مال جمع میکنند برای شهوات است و اگر بلندترین مناصب و مقام ها را بدست می آورند، منظور شان از ارضای شهوات است) ...

(ادامه دارد)

# مړه یې مه بولئ ژوندي دي

د افغان مقدس جهاد د سپېڅلو شهیدانو یاد

## شهید داکتر محمد ولی ناصری

از آرشیف خانه جهاد افغانستان

شهید داکتر محمد ولی ناصری فرزند دلبند و برومند دگروال محمدابراهیم ناصری که در سال ۱۳۳۵ در یک فامیل متدین در محله، بنام میرویس میدان ولایت کابل چشم به جهان کشود و از خورد سالگی به فراگرفتن علوم دینی پرداخت و به سن شش سالگی شامل مکتب کارته مامورین گردید بعد از یکسال به مکتب میرویس هوتکی تبدیل گردید که بعد از فراغت از صنف ششم شامل لیسه استقلال گردید که با فراگرفتن نمرات عالی بعد از صنف هشتم شامل حربی شونځی شد که نظر به لیاقت و نبوغ فکری اش شامل شعبه طب حربی پوهنتون گردید بعدا به فاکتولته طب ننگرهار شامل گردید تحصیلایت عالی اش را الی صنف پنجم دنبال نمود داکتر محمدولی که از سیمایش واقعاً آثار کرامت میدرخشید بعد از کودتای ننگین هفت ثور به مقتضای فطرت اسلامی و ایمانی اش مبارزه را علیه کفر و کمونیزم آغاز نمود سلسله مبارزه قبلی خود علیه داوود سفاک را مستحکم تر ساخت روابط خود را با سائر حلقه های مبارزین در قطعات و مؤسسات مختلف تقویت بخشید که در نتیجه آن هفت تن هم سنگران رسالت مند خود را از جمله عبدالاحد از ولایت لوگر را در اولین هفته نامیمون کودتای ثور از دست داد و به چوبه دار کشانده شدند خودش در همین شب بخانه رفته بود ازین حمله وحشیانه جان به سلامت برد ولی بلادرنگ به کابل عزیمت نموده تحصیلاتش را ترک نمود و در کابل با کمال ایثار و فداکاری که خاصه، دیرینه اش بود رابطه، خود را با دگروال عظیم خان قائم نموده به جهاد مسلحانه و عملیات چریکی خود طور مخلصانه وایثارگرانه ادامه داد او در شمار برادران تحریکی هفتادمین مهاجر ولایت لوگر و عضو فعال مجاهدین افغانستان بود او به صفت یک داعی و ممثل واقعی اسلام شب و روز در تحریک بسر برد همان بود که در یک توطئه دیگر دشمن مکار چند تن دیگر از همسنگران خود را مانند دگروال محمدعظیم خان و تورن شیرآقا را از دست داد و به شهادت رسیدند که بعداً او و پسر کاکایش بفعالیت ها و شهکاری های خویش تسریع بخشید که اولین دفعه در منطقه شاه شهید و کارته نو سکونت مخفی اختیار نمود که بعداً محل اقامت شان افشاء گردید بعداً به میرویس میدان انتقال و نقل مکان نمود و تا شروع برج جدی ۱۳۵۷ در شهر کابل به فعالیتهای خویش ادامه داد که بعد بخاطر پیشبرد بهتر امور جهاد خانه اصلی خود در میرویس میدان را ترک گفته در اخیر جدی همان سال به پاکستان مهاجرت نمود و به صف برادران تحریک پیوست که در پایان همین سال ۱۳۵۷ به صفت مسئول امور صحی تحت قوماندانی احسان الله خان عازم جبهه منگل ولایت پکتیا گردید. و با رشادت و از خود گذری به جهاد عملی و تداوی برادران همسنگر خویش پرداخت در بهار سال ۱۳۵۸ غرض اعلای کلمه الله به ولایت لوگر به منطقه دوبندی رفته و بعداً وارد علاقداری چرخ شد و به شکل گروپ سیار در لوگر فعالیتهای جهادی و دعوت را ادامه میداد.

در سال ۱۳۵۹ به صفت داکتر جبهه وارد ولسوالی محمدآغه شد. در سال ۱۳۶۰ به صفت معاون ولسوالی محمد آغه مقرر شد و با کمال شهامت این وظیفه را پیش برد در سال ۱۳۶۰ در سنگر گرم جهاد پای و دست چپ او شدیداً زخمی شد.

داکتر صاحب در سال ۱۳۶۱ به صفت قوماندان نظامی جبهه خندق و ولسوالی محمدآغه، مقرر گردید و درین پست با کمال ایمانداری مدت دو سال ایفای وظیفه نمود و در سال ۱۳۶۳ برعلاوه قوماندانی جبهه خندق بصفت امریت عمومی ولسوالی نیز به وی سپرده شد که الی روز شهادت خود این قهرمان محراب خون با کمال صداقت و اخلاص این دو مسئولیت بزرگ و خطیر را انجام داد و بالاخره بتاریخ یازدهم میزان به روز پنجشنبه ساعت ۱۱/۵۰ قبل از ظهر در حالیکه مستقیماً بطرف روسها یورش برده بود با چند تن از برادران همسنگر خویش به شهادت رسید و به لقاء الله پیوست.

داکتر صاحب و برادران همسنگر او با مقاومت سرسختانه با قوای وحشی روس در مدت یک و نیم ساعت نبرد رویا روئی تلفات جانی و مالی زیاد به روسهای وحشی بار آوردند.

داکتر صاحب در طول هفت سال جهاد مسلحانه در حدود صد مرتبه در عملیات نظامی اشتراک نموده که خود قومانده عملیات را عهده دار بود و طی این عملیات ها بیش از صد ها عراده تانک و وسایل نقلیه دشمن را از بین برده و صدها نفر از روسها و مزدوران حلقه بگوش آنها را روانه جهنم نمود...

*بقیه در صفحه چهارم*

# راشه د بلې دې خبر کړم!

عبدالله کامه وال

## ماشوم قرآنکریم په لاس دنیا ته راغی

د نایجیریا په لاګوس ښار کی یوی ۳۲ کلنی ښځی یو ماشوم زیږولی چی د ولادت پر مهال د کوچني په.لاس کی د قرانکریم یوه وړه نسخه وه.
په نایجیریا کی د دغی خبر د خپریدو سره سم ډیری مسلمانان خوشاله شول، خو یو شمیرډاکټرانو د ساینس له مخی له دی خبر انکار وکړ.
په لاګوس کی د ککلورموالوري په نوم ښځی له ولادت وروسته وویل چی څو ځله یی د دغه کوچني د ضایع کولو هڅه وکړه خو ناکامه شوه..هغه وایی د دغی حمل د له منځه وړلو لپاره یی چی څومره درمل خوړل هماغومره به په رحم کی ماشوم تندرست کیده دغی ښځی ویلي چی د حمل د لمنځه وړلو د ناکامی هځی نه وروسته یی پریکړه وکړه چی د ماشوم سمه ساتنه او پرورش وکړي، او د همدی لپاره یی په غاړه کی د صلیب لاکټ واچاوه چی په خبره یي هغه هم مات شو.
ښځه وایی کله چی د حمل پولس میاشتی پوره شوی ما دا خبره له خپلی یوی ملګری سره شریکه کړه چی هغی د یو پادري خوا ته یوړم چیرته چی ماشوم په داسی حال کی پیدا شو چی په لاس کی یی د قران کریم یوه نسخه وه.
هغه وایي د دغی کوچني د ضایع کیدو هڅه یی ځکه کوله چی تر دی دمه واده شوی نده ،او پادري هم ورته د حمل د نه ضایع کولو مشوره ور کړی وه.
په نایجیریا کی چی څنګه دغه خبر خپور شو نو د مسلمانانو کم شمیر کسان د دغی ښځی د لیدو په موخه راغلل.او کله چی یی کوچنی ولید نو د الله اکبر الله اکبر ناری یي پیل کړی.

په هماغه سیمه کی د یوی اسلامي ډلی ) انصارالاسلام سوسایټي نایجیریا( مشر الحاج عبدالرحیم امین وویل چی مور او ماشوم دواړه یی ولیدل او د دواړو لپاره یی د روغتیا دعاګانی وکړی.هغه زیاته کړه چی دا د الله ج د نښانو څخه دی.
د یادونی خبره دا ده چی یاده ښځه عیسوی ده او په دی عقیده لري چی ماشوم د الله ج دین دی.
یو شمیر نایجیریایي مسلمانانو دغه پیښه یوه معجزه وګڼله خو بلخوا بیا ډاکټران او ساینسدانان دغه پیښه نه مني او انکار ورڅخه کوي.

***

## داسې لاسي ساعت چې انټرنیټ لري او د ټلیفون کار ترې هم اخیستل کیږي

د ایټالیا هیواد یو شرکت په وروستیو کې داسې لاسي ساعت جوړ کړي چې نه یواځې وخت معلوموي بلکې پیغامونه هم پرې استول کیږي.
دا لاسي ساعت په نړی کې لومړنی ساعت دی چې له انټرنیټ سره وسلیږي او د فیسبوک او ټویټر له لارې له خلکو سره اړیکي ټینګولای شي ، همدا راز دا ساعت د سیم کارت په کارولو سره د تلیفون کار هم ورکوي.
دا ساعت ټچ سکیرین ، څلور جیبي حافظه لو څلور شپیته ایم بي ریم او د (Blue Tooth) پروګرام هم لري چې په وسیله یې له نورو ټلیفونونو ایم پې ترې فارمټ شیان ورته لیږل کیدای شي.
راپورونه وایې چې دا لاسي ساعتونه په ایټالیا کې تازه تازه بازار ته راغلي او بیه یې له اته سوه څخه تر زرو ډالرو رسیږي.

### شهید داکتر محمدولی ...

...درین جهاد و پیکار فامیل متدین داکتر صاحب و همه دوستان و اقربای او نیز دوشادوش او در صحنه جهاد عملی قرار داشتند و به انواع مختلف ابتلائت مواجه شدند. درین سلسله والد داکتر محمد ولی دګروال محمدابراهیم خان بتاریخ هفت ثور ۱۳۵۷ از طرف مزدوران روس دستگیر و روانه زندان گردید که بعد از شکنجه و فشار زیاد بتاریخ ۱۹/۱۸ برج ثور به زندان پلچرخی متنقل و الی جدی سال ۱۳۵۸ در آنجا باقی ماند.
کاکای شهید داکتر محمد ولی دګروال محمدشاه ولی نیز مدت هشت ماه را در بلاک خطرناک پلچرخی سپری نموده در برج جوزا ۱۳۵۷ پسر کاکای او دوهم بریدمن محمد عالم خان دستگیر و در برج اسد ۱۳۵۷ در کشتارگاه پلچرخی به شهادت رسید.
در سال ۱۳۵۷ برادر داکتر صاحب شهید محمدفاروق متعلم صنف یازدهم لیسه غازی توسط رژیم مزدور دستگیر و در سال۱۳۵۸ به شهادت رسید و نیز محمدصدیق دوهم بریدمن پسر کاکای داکتر صاحب شهید در سال ۱۳۵۸ در جبهه کنر به شهادت رسید.
محمداسمعیل پسر کاکای داکتر محمدولی شهید در سال ۱۳۵۸ یکجا با داکتر صاحب محمدفاروق دستگیر و در پلچرخی به نعمت شهادت نایل آمد.
توریالی پسر کاکای داکتر محمدولی شهید نیز در سال ۱۳۶۳ در جبهه خندق ولایت لوگر به شهادت رسید.
نورآغا پسر کاکای داکتر محمدولی در سال ۱۳۶۲ در جبهه خندق لوگر به شهادت رسید. همچنان مولوی عبدالغنی مامای داکتر محمدولی شهید در سال ۱۳۵۸ توسط رژیم مزدور گرفتار و در زندان پلچرخی به شهادت رسید.
دگرمن عبدالمنان مامای داکتر صاحب که در واقعه خیرخانه مینه سال ۱۳۵۷ دستگیر و در زندان پلچرخی به شهادت رسید.

### م.م پر افغان طالبانو د ...

پریکړه لیک له افغان حکومت څخه غواړي، چې د سولې له عالي شورا سره په نژدې همکاری کې د امنیت شورا د بندیزونو کمیټې ته د هغو کسانو د نومونو لېست ورکړي چې دوی د پخلاینې اوسولې د پروګرام د ملاتړ په غونډو کې د ګډون په مقصد څانګړو سیمو ته د هغو د سفر اړتیا تاییدوي.
د امنیت شورا د بندیزونو کمیټه له دې کسانو غواړي چې باید د سفر پرمهال د خپل پاسپورت د شمېرې، د سفر د ځای او د مودې په اړه چې تر نهو میاشتو نشي زیاتېدلای، دوی ته معلومات ورکړي.
په ملګروملتونو کې د برتانیا سفیر مارک لیال ګرانټ Mark Lyall Grantوویل، د امریکا په غوښتنه برابر شوی دا پریکړه لیک به د طالب مشرانو د سفر د معافیت اغېز او سهولت زیات او د افغانستان د سولې او پخلاینې له بهیر سره چې په راتلونکو دوو کلونو کې به ډېر مهم شي مرسته وکړي.
ښاغلي لیال ګرانټ په یوه بیان کې ویلي چې یادشوی پریکړه لیک به همداراز د امنیت شورا د بندیزونو کمیټې ته د سمې څارنې د ملاتړ امکان برابر کړي او پر دې سربېره د افغان حکومت او د بندیزونو د کمیټې ترمنځ د نژدې همکارۍ لپاره به چوکاټ رامنځ ته کړي.
امنیت شورا دا پرېکړه لیک په داسې حال کې تصویبوي چې ټاکل شوې په روانه اونۍ کې د یوې فرانسوی تحقیقاتي ټولنې په نوښت د فرانسې پلازمېنې پاریس ته نژدې دوه طالب مشران د افغان حکومت او د پخوانۍ شمالي ټلوالې په ګډون د اپوزیسیون له استازو سره کتنه وکړي.
ویل شوي چې دا غونډه له سبا چارشنبې د جمعې تر ورځې په یوه پټ ځای کې د تړلو دروازو شاته جوړېږي او ټول شل کسان برخه پکې اخلي.
د فرانسې د بهرنیوچارو وزیر لاورینټ فابیوس پرون په یوه راډیویي مرکه کې وویل چې افغان ولسمشرحامد کرزي د دې غونډې له جوړېدو سره موافقه کړې.
فابیوس زیاته کړه چې په دې غونډه کې به بحثونه کېږي، نه رسمي خبرې اترې.
د طالبانو ویاند ذبیح الله مجاهد منلې چې د دوی استازی به په غونډه کې ونډا وکړي او ګډونوالو ته به د طالبانو لیدلوری بیان کړي خو ده ټینګار کړی چې له هیڅ اړخ سره سیاسي خبرې اترې نه کوي.
افغان اسلامي اژانس ویلي، چې شهاب الدین دلاور او محمد نعیم د طالبانو په استازیتوب په دې کنفرانس کې ګډون کوي.

### اعلام آمادگی طالبان برای ...

نظیف‌الله سالارزی، سخنگوی یوناما در افغانستان در گفتگو با رسانه‌ها هدف از برگزاری این نشست را تقویت روند صلح در افغانستان خوانده است.
او ابراز امیدواری کرد که مخالفان مسلح دولت از جمله طالبان و حزب اسلامی در این نشست صلح شرکت کنند.
با این حال، ذبیح‌الله مجاهد می گوید: تا کنون گروه طالبان در جریان این نشست قرار نگرفته است و هیچ پیامی از سوی دولت افغانستان و سازمان ملل دریافت نکردیم.
تلاش‌ها برای جذب گروه طالبان، شبکه حقانی، حزب اسلامی و سایر گروه‌های مسلح مخالف دولت به فرآیند صلح از سال‌های گذشته تا کنون ادامه دارد.
قرار است نشست پاریس بروز (سه‌شنبه) با حضور نماینده گان طالبان، شورای صلح و برخی از کشورهای بین‌المللی در فرانسه بر گزار شود.
گروه طالبان تایید کرده است که دو نماینده این گروه وارد فرانسه شده‌اند و قرار است در نشست صلح پاریس شرکت کنند.
ذبیح‌الله مجاهد اعلام کرد که نشست پاریس تنها یک کنفرانس تحقیقاتی است و موضوع مذاکرات صلح در آن مطرح نخواهد شد.
همه‌شمول بودن مذاکرات حکومت افغانستان با ایجاد شورای عالی صلح، تاکیدش بر برقراری صلح و ثبات دایمی در این کشور را شدت بخشیده است. پذیرفتن قانون اساسی و قطع ارتباط با گروه‌های شورشی مانند شبکه القاعده و حقانی پیش‌شرط های دولت افغانستان برای پیوستن اعضای گروه‌های شورشی به روند صلح خوانده شده است.
گروه طالبان بارها تاکید کرده که آغاز گفتگو ها با دولت افغانستان مشروط بر خروج کامل نیروهای ناتو از افغانستان است.

### روسیه مخالف حضور دراز مدت ...

این کشور در مباحثات مربوط به آینده افغانستان بعد از سال ۲۰۱۴ مشارکت داشته باشد.
خروج نیروهای نظامی خارجی از افغانستان برای پایان سال ۲۰۱۴ در نظر گرفته شده است. در عین حال هم قصر سفید و هم پنتاگون از طرح های مربوط به حفظ نیروهای نظامی قابل توجهی در افغانستان بعد از سال ۲۰۱۴صحبت کرده و پنهان نمی کنند که حضور نظامی امریکا در این کشور ادامه خواهد داشت. در حال حاضر حدود ۷۰هزار نیروی نظامی امریکایی در افغانستان مستقر هستند.
منشی عمومی شورای امنیت روسیه گفت: لازم است ماموریت و وظایف عملیات آینده احتمالی نیروهای ناتو در افغانستان کاملا مشخص باشد و این ماموریت قطعا باید با اجازه شورای امنیت سازمان ملل متحد صورت بگیرد. حفظ درازمدت نیروهای نظامی خارجی در افغانستان برای روسیه غیرقابل قبول است و به همین دلیل هم ما بر این عقیده هستیم که شرکت روسیه در مباحثات مربوط به آینده افغانستان ضروری است، چرا که تهدیدات ناشی از تروریزم و قاچاق مواد مخدر از جانب افغانستان همچنان بسیار بالاست.
پاتروشیف در رابطه با اعلام خروج نیروهای نظامی امریکایی از افغانستان در سال ۲۰۱۴ یادآور شد: همه مسائل در این رابطه روشن نیست. با وجود اینکه مقامات واشنگتن قصد دارند نیروهای خود در این کشور را کاهش دهند، ولی در عین حال درصدد حفظ حضور نظامی درازمدت خود در افغانستان بعد ارسال ۲۰۱۴ و حداقل برای ۱۰ سال آینده هستند.

### د افغانستان په اړه د نړیوال ...

څواکونو حضور کمیږي، د شویو پرمختګونو ساتل او دوام به له ستر خطر سره مخ وي؛ ځکه په ملکي برخه کې ورتیاوې کافي نه دي اود بشري منابعو پلانونه محدود دي.
په دغه راپور کې د حکومت کمزورتیا ته ګوته نیول شوې، په تیره بیا ویل شوي، چې په سیمه ییزه او محلي سطحه د ادارو نشتوالی د دې خطررامنځ ته کوي؛ چې په ملي سطحه د پروګرامونو عملي کیدل دوام ونه مومي.
نړیوال بانک وایي، په ولایتونو یا ولسوالیو کې د باثباته ادارو نشتوالی د دې سبب کیږي؛ چې په کلیو او بانډو کې د پانګې اچونې په برخه کې اقتصادي پروژې دوام ونه کړي یایې هم نتیجه ګټوره نه وي.
په راپور کې دغه راز ویل شوي، چې په ملکي برخه کې پلان جوړونه د پوځي سکتور په نسبت ډیره وروده چې دا د افغانستان د ادارو ترمنځ تعادل له خطررامنځ ته کوي. نړیوال بانک وایي، په تیره یوه لسیزه کې افغانستان د روغتیایي خدماتو په برخه کې د پام وړپرمختګ کړی؛ ټولو ولایتونو ته لومړني روغتیایي خدمات رسیدلي او د ماشومانو د مړینې اندازه کمه شوې ده.
د پوهنې په برخه کې هم ډیرپرمختګ شوی دی، په لومړنیو ښوونځیو کې په تیر ۲۰۱۱کال کې د زده کوونکو شمیراوه میلیونه او دوه لکو ته رسیدلی حال دا چې په ۲۰۰۱ کال کې یومیلون زده کونکي ښوونځیو ته تلل. د ښځینه زده کونکو شمېر چې یووخت ډېر ناڅیز واوس نژدې درې میلیونو ته رسیدلی دی .
نړیوال بانک دغه راز په راپور کې وایي، چې د ضدونقیضو سلاومشورو او د مرستندویه موسسود پروګرامونو ترمنځ رقابتونه د امنیتي ستونزو ترڅنګ د بیارغونې او اقتصادي فعالیتونه له خنډ او خنډ سره مخ کړي دي.
نړیوال بانک وایي، چې د دې بانک پروګرامونه په افغانستان کې په ډیرو سختو شرایطو کې عملي کیږي، امنیتي وضعیت د افغانستان د پرمختګ او د نړیوالو مرسته کونکو په لاره کې یوه لویه ستونزه بلل کیږي.
بانک د کارکونکو د نشتوالی یادونه کوي، چې افغانستان ته واستول شي او وایي، همدې مسالې دا بانک د خپلو پروګرامونو په عملي کیدو کې له ستونزو سره مخامخ کړی دی.

### تلاش صدر اعظم انگلستان ...

...پس از خروج نیروهای بین‌المللی از افغانستان در سال ۲۰۱۴ در این کشور باقی بمانند انگلستان نیز اعلام کرد، که قصد دارد تا پایان سال جاری میلادی حدود ۵۰۰ تن از سربازان اردو را از افغانستان خارج کند، البته کامرون از اعلام یک چهارچوب زمانی دقیق در این باره خودداری کرد چرا که تنش‌هایی میان سیاستمداران و قوماندانان دفاعی انگلستان در این خصوص وجود دارد.
قوماندانان اردوی انگلستان همچنان بر این عقیده‌اند که اقدامات و دستاوردهای ناتو در مقابل طالبان خوب نبوده و تردیدهایی نیز در خصوص قابلیت‌ها و ظرفیت‌های نیروهای امنیت ملی افغانستان وجود دارد.
قوماندانان ارشد اردوی انگلستان همچنین معتقدند که کاهش سریع تعداد نیروهای نظامی این کشور در افغانستان زندگی نیروهایی را که در هلمند باقی مانده‌اند به مخاطره می‌اندازند و در بدترین وضع ممکن ستراتیژی خروج نیروها را از مسیر درست منحرف می کند.
تصمیم گیری در خصوص جزئیات این اظهارنظر از سوی دیوید کامرون احتمالاً در نشست روز سه شنبه شورای امنیت ملی و با حضور وزیران ارشد، فرماندهان نظامی و مقام‌های اجتماعی این کشور اتخاذ می‌شود.
همچنین "برندان نلسون"، سفیر سابق استرالیا در ناتو گفت که خروج سریع نیروها از افغانستان توسط انگلستان و واگذاری مسائل امنیتی به امریکا و سایر نیروهای ائتلاف یک بی‌مسوولیتی است.

### کمک ۶۸۸ میلیون دالری ...

را به عنوان نماینده به پاکستان داشته است.
این سفرها به ویژه پس از کشته شدن اسامه بن لادن، رهبر سابق القاعده در ابیت آباد پاکستان توسط نیروهای امریکایی در می سال ۲۰۱۱ میلادی انجام شد. وی همچنین یکی از تدوین کنندگان قانونی است که بر اساس آن به مدت پنج سال مبلغ ۵، ۷ میلیارد دلر کمک غیرنظامی از جانب امریکا به پاکستان ارائه می‌شود.
همچنین دولت امریکا مبلغ دو میلیارد دالر به صورت سالانه برای کمک‌های امنیتی به پاکستان در نظر گرفته که حدودا نیمی از این مبلغ قرار است برای عملیات نظامی مقابله با تروریزم به اسلام آباد پرداخت شود.
تاکنون پرداخت حجم بسیار زیادی از این پول که "تامین مالی ائتلاف ناتو" خوانده می‌شود، به تاخیر افتاده و علت آن هم تنش‌های موجود میان دولت اسلام آباد و واشنگتن در خصوص حمله به خاک پاکستان برای کشتن بن لادن و همچنین کشته شدن ۲۴ نظامی پاکستانی از سوی نیروهای امریکایی است؛ امری که باعث شد تا پاکستان مسیرهای ترانزیت کالا و مایحتاج ناتو به افغانستان را در سال گذشته مسدود کند.
طرح پرداخت مبلغ ۶۸۸ میلیون دالر به پاکستان از زمان ارائه به کانگریس در هفتم دسمبر سال جاری باعث اعتراضاتی شده است.
مقام‌های امریکایی و پاکستانی می گویند که عدم واکنش از سوی دو کشور از زمان بازگشایی مسیرهای ترانزیتی توسط اسلام آباد، تاکیدی بر این مساله است که چگونه روابط اسلام آباد و واشنگتن به صورت تدریجی بهبود یافته است.

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولی یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ
شهادت اونیزه
د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

خپرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالخلیل (خلیل)

د اړیکو شمېرې:
دفتر: ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدیر: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستیال مدیر: ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي
• رالیږل شوې مطالب نه مستردېږي - یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی.

دیزاین: خواجه وحیدالله | آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر. د شاداب ظفر بلاکونو شاته. خوشال خان مینه - کابل | Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com